# په ښارونو کې د ښاري ونډې تړون

## د ښاري پیوستون د ملي پروګرام پرمختګ(USP)

دا لیکنه د ښاري پیوستون د ملي برنامې (USP) یوه انګیرنه ده چې د ښار ونډې له تړون سره همغږي لري او د ښاري لومړیتوبونو د ملي برنامې (U-NPP) یو مهم وړاندیز شوی فعالیت، وړاندې کوي. دا سند د هغو موخو په اړه چې له USP څخه ترلاسه کیږي او د هغه د تطبیقولو د تګلارې او ځای یوه اجمالي کتنه وړاندې کوي. همدارازدا سند د ښاروندې د تړون له برنامې سره د همغږۍ د زیاتولو په موخه له دې څخه د ډاډ تر لاسه کولو لپاره چې ټول افغانان (په کلیوالي او ښاري سیمو کې) د ټولنې د ګډون پر بنسټ په حکومتولۍ، دولت جوړولو او د کورني انډولیزې پرمختیا په موخه د خدمتونو په غوره وړاندې کولو کې ونډه ولري، ملاتړ جلبوي.

۸مه شمېره توضیحي سند،۲ مه لړۍ، اپریل - ۲۰۱۶ ز کال

### د ښاري پیوستون (USP) د وړاندیز شوې پروګرام حالت

د USP برنامه د ښاري لومړیتوبونو د ملي پروګرام (U-NPP) د یو مهم فعالیت په توګه ګڼل کیږي. دا پروګرام د ملي وحدت د حکومت موخه د ښارونو/ښاروالیو د اوسیدونکو ترمنځ د تشې د ډکولو لپاره د سیمه ییزې حکومتوالۍ میکانیزمونو ته د رسمیت ورکولو په وسیله لکه کلیوالي پرمختیایي شوراګانې او سیمه ییزې شوراګانې، د ښاروالۍ د خدمتونو او پرمختیا د ښه کولو په موخه څرګندوي.

> ځومره چې ښارونه پرمختګ کوي، همغومره د اوسیدونکو او ښاروالیو ترمنځ واټن لری کیږي. زمونږ ژمنه داده چې مونږ به د خلکو انتخابی شوراګانې ټاکو ... لکه د ملی پیوستون پروګرام په شان، مونږ به د ښاري پیوستون پروګرام جوړوو، کوم چې د خلکو د فعال ګډون لپاره اړین فرصتونه رامنخته کړي. محمد اشرف غِني احمدزې

د USP برنامه یوه نوې نظریه نه ده. دا برنامه په کلیوالي سیمو کې د ملي پیوستون له برنامې څخه د تر لاسه شویو تجربو پر بنسټ رامنځته شوې ده. د تیرې لسیزې په جریان کې USP ته ورته برنامې په بیلابیلو ښارونو کې تطبیق شوې دي، دې تجربې ته د اجمالي کتنې په موخه د (ښاري پیوستون) د لومړۍ لړۍ دویمې ګڼې مقالې ته مراجعه وکړئ.
له دې امله، د دې برنامې د پراختیا لپاره وړاندیز یو نوی کار نه دی بلکې په لاندې څو ساحو کې د دقیقې څېړنې غوښتنه کوي:

- د USP او ښاري ونډې د تړون پروګرام ترمنځ دقیقه اړیکه څه شی ده؟
- «ښاري» څوک او «کلیوال» څوک دی، له دې امله کومه برنامه باید کوم ځای کې تطبیق شي؟
- د کلیوالي او ښاري ټولنو ترمنځ لوی توپیرونه کوم دي، دا برنامه به څه ډول دې توپیرونو ته رسیدنه وکړي؟
- دې ته په پاملرنې سره چې د محدودو سرچینو د شتون له امله په بشپړه توګه تر پوښښ لاندې نیول شونې نه دي، کوم ښارونو ته باید لومړیتوب ورکړل شي؟
- څرنګه USP کولای شي د ټولنې پر بنسټ د مرستو له یوې برنامې څخه لوړه وي، په ځانګړې توګه د ښاروالۍ د حکومتولۍ د پیاوړي کولو او د ښاروالۍ د عوایدو د ښه کولو په موخه؟
- د برنامې د پراخه تطبیق لپاره د ښاروالیو او ټولنو د اوسني جذب وړتیا تر کومې کچې پورې ده؟

د راتلونکو بیلابیلو برنامو ترمنځ د همغږۍ د ښه کولو په اړه مثبت پرمختګونه تر لاسه شوي دي. تر ټولو د نویو معلوماتو پر بنسټ USP د ښاروندو د ملي چارټر د برنامې تر پوښښ لاندې تمویلیږي، سره له دې چې تر اوسه د U-NPP د برنامې تر پوښښ لاندې ده. دا یو منطقي تصمیم دی ځکه دا کار د ملي پرمختیا لپاره د یوې همغږې تګلارې د رامنځته کولو په موخه زمینه برابروي او د ټولو افغانانو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره انډولیزه ده او د ښاروالیو معینیت (IDLG/DMM) او ښاروالۍ[1] برلاسي کوي څو د NSP د برنامې د تجربو لویې برخې، په ځانګړې توګه د مالي، پلان جوړونې، وړاندې کولو، څارنې او ارزونې په اړه دا برنامه وکاروي.

#### په ښاروالیو کې کمزوري حکومتوالي او حاکمیت

د پراختیایي سیمه ییزو شوراګانو، ګذرونو، ناحیو او ښارونو لپاره د ټاکلو پولو نشتوالی
د پلان جوړونې لپاره د ښاري رقمونه نشتوالی
د ښار میشتو ترمنځ د ښار اوسېدنې فرهنګ، حقونو او مسولیتونو په اړه ناخبري
د ښاري اړوندو مراجعو ترمنځ د نه همغږۍ شتون

#### مالي او اقتصادي خنډونه

د خدمتونو وړاندې کولو لپاره د ښاروالۍ د پوره عوایدو نه شتون
له ښاروالیو څخه د ملي بودیجې نشتوالی
د ښارونو د اقتصادي پراختیا لپاره د پلانونو نشتوالی
د ښاري پانګونې او د دندو رامنځته کولو لپاره بیړنی اړتیاوې

#### USP اوسنۍ اړتیاوې اوننګونې

#### غیر رسمي استوګنې او درې اړخیز نابرابرۍ (Spatial)

د ښارونو ډېرې برخه (۷۰ سلنه) نارسمي دي او په هغو سیمو کې محدود خدمتونو موجود دي.
په غیر رسمي سیمو کې د اوسیدونکو لپاره د تصدۍ محدود امنیت
د ښارونو د پراخېدو نه کابو کېدل، د نا پلان شویو سیمو او ځمکو غصب


#### په ښارونو کې د دولت، ټولنو او ښاریانو د ګډون ترمنځ کمزوري اړیکې

پر ښاروالۍ باندې د خلکو د نه باورۍ له امله د ښاریانو د مالي او نورو ښاروالیو مطالباتو نه ورکول
د ښاروالۍ په حکومتوالۍ کې د ګډون نشتوالی
د ښځو او ځوانانو ونډې ته پاملرنه نه ده شوې او د هغوی استازي ګډون نه لري

[4]More consideration in programme design will need to be given to how to deal with previous-funded CDCs and USP work. A vulnerability criteria and transparent selection process will need to be established to ensure USP meets the needs of the most vulnerable neighbourhoods.

[1]Formerly the General Directorate of Municipal Affairs (GDMA)

## د ښاري پیوستون د پروګرام وضعیت




**کليدي بنسټونه**

د کور او ښار جوړولو وزارت، د سیمییزو ارګانونو خپلواکه اداره، د کابل ښاروالي، د افغانستان د ځمکو خپلواکه اداره، ښاروالی

د مهاجرينو او بيرته ستنيدونکو چارو وزارت، د کرنې او اوبو لګولو او مالداری وزارت، د عامې روغتيا وزارت، د ماليې وزارت

## USP څه شی ده؟

لکه څرنګه چې اوسمهال ليدل کيږي، USP به يو ملي برنامه وي چې د دولت د بوديجې له لارې د مرستندوی مالي تخصيص د لګښت د ميکانيزمونو په وسيله د ښاروالیو معینیت ((DMM، کابل ښاروالی او نورو ښاروالیو له لوري تمويليږي. له هغه څخه د عمومي هيلو اغيزې عبارت دي له: «د سيمه ييزې حکومتوالۍ پياوړتيا او د افغانستان په لويو ښارونو کې اقتصادي پرمختيا». د دې برنامې څلور متوقعه پايلې په لاندې توګه دي:

- د ښاروالیو د وړتياوو لوړېدل او د ټولنې د ګډون پر بنسټ حکومتوالي.
- په ښاري سيمو کې د ژوند د شرايطو ښه کيدل.
- په ښارونو کې د کورنيو په کچه او په خصوصي سکتور کې د پانګونې زياتيدل او د کاري فرصتونو رامنځته کيدل.
- د خدمتونو د وړاندې کولو په موخه د ښاروالیو لپاره د دوامداره عوايدو زياتيدل.

USP د پنځو لاندې لويو برخو لپاره طرحه شوې ده:

**لومړۍ برخه: د کليو د پرمختيايي شوراګانو او د سيمه ييزو شوراګانو له لارې د ښار ونډو ځواکمنول؛**

دا برخه د ښار ونډو پر ګډون چې د ښاري پرمختيايي شوراګانو له لارې جوړې شوي دي، څرخيږي. يوه کليواله پرمختيايي شورا له ۲۵۰ کورنيو څخه جوړه شوې او يوه سيمه ييزه پرمختيايي شورا له څلورو څخه تر پنځو کليوالي شوراګانو (له ۱۲۵۰ کورنيو) څخه جوړه شوې ده[3]. د دې برخې په فعاليتونو کې

## د ښاري ښکيلتيا جوړښت




## د ناحيه، ګذرونو او محلی شوراګانو درې اړخيزه تړون






[2]UN-Habitat (2014) Urban Solidarity. Discussion Paper #2. <ADD WEB LINK>

په د افرادو تنظيمول، د شوراګانو ديموکراتيکې ټاکنې، د پولو ځانګړي کول له مدني تعليماتو او د ښاروالیو له مشورتي بورډ سره د اړيکو پياوړي کول او د شوراګانو غړو او اوسيدونکو ته د پوهاوي ورکول شامل وي.

**دويمه برخه: د سيمه ييزې پلان جوړونې له لارې د استوګنې د سيمو لوړول او د خدمتونو وړاندې کول له قيد او شرط څخه پرته مالي باور او د ټولنو او ښاروالیو ونډه اخيستنه؛**


دا برخه د ملي پيوستون له برنامې سره ډېر ورته والی لري او په دې کې د سيمې د پرمختيايي شوراګانو او د کليو د شوراګانو په کچه ګډ کاري پلان؛ د فرعي پروژو پېژندل او د پيشنهاد ليکونو (Proposal) جوړول؛ د يوې مالي ستراتيژۍ ترتيبول (لکه د پيسو ونډه/په مالي مرستو د پروژو تمويل او تطبيقول چې له قيد او شرط څخه پرته د مالي باور له لارې ورکول کيږي)؛ او د فرعي پروژو تطبيقول، د ناحيو د دفترونو او شوراګانو له لورې څارنه او ارزونه شامل دي. په فرعي پروژو کې کيدای شي د کثافاتو تنظيمول، د سيمو زرغونول، د واټونو رغاول، د فاضله اوبو شبکې، د واټونو روښانول او پر کورونو د شميرو د ليکلو برخې شاملې وي او د تصدۍ د اهميت له ښه کولو او قانوني کولو سره، په ځانګړې توګه د استوګنو د غير رسمي/ ناپلان شويو سيمو سره همغږې وي. برسيره پردې د ناحيو په کچه پلان جوړونه کې به هڅه وشي څو د ښاري هر اړخيزې پرمختيا لپاره د دې فرعي پروژو ترمنځ کډې هڅې او اړيکې ځانګړې کړي.





**دريمه برخه: د ښاروالۍ د عوايدو دوامداره زياتيدل، اقتصادي پرمختيا او د کاري فرصتونو رامنځته کيدل؛**

دا برخه پر مالي اصلاحاتو او د ښاروالیو د عوايدو پر زياتيدلو د ناحيو او ښارونو په کچه، د عوايدو د زياتولو، د روڼتيا د ښه کولو او په ښاروالیو کې د حساب ورکولو په موخه څرخيږي. په دې برخه کې به د کاري اجراآتو پر بنسټ په بودجه کې بدلون، د ناحيو په ټولو برخو کې د منابعو ځانګړې کول؛ د عوايدو دوامداره سرچينې لکه د پاکولو فيس، د سوداګرۍ جواز او نور؛ او د مالي حساب ورکولو او روڼتيا لپاره د الکترونيکي سيستم رامنځته کول شامل وي. د اقتصادي پرمختيا په فعاليتونو کې د اقتصادي پرمختيايي پلانونو جوړول او تطبيقول او اسانتياوو او ښاري خدمتونو کې د پانګونې لپاره د خصوصي سکتور له هڅولو سره د شخصی او عامه همکاري ((PPPs ښه کول، شامل دي.




د ښاروالیو مالي چارې د تر لاسه شويو ګډو قاعده: د راټولو شويو عوايدو او وړاندې شويو خدمتونو ترمنځ څرګندې اړيکې او هغه وخت چې عوايد له فيسونو او لګښتونو څخه لوړيږي، خدمتونه ښه کيږي.

**څلورمه برخه: د ښاروالیو د بشري او اداري وړتياوو لوړول؛**

په يوه ښاروالۍ کې د حکومتوالۍ بريا او مالي اصلاحات تر زياته حده د هغو د تطبيق لپاره د ښاروالۍ د کارکوونکو له وړتياوو سره تړاو لري. له همدې امله، د دې برخې موخه په ښاروالیو کې بشري او اداري لويو نيمګړتياوو ته رسيد نه ده[3]. د دې برخې په فعاليتونو کې به د کار په جريان کې د روزنيزو برنامو له لارې د ښاروالیو د کارکوونکو د وړتياوو لوړول او د مهارتونو ښه کول؛ د ښاروالیو او ناحيو په کچه د سيستمونو او کړنلارو د اداري وړتياوو لوړول؛ د ښاروالیو د مشورتي بورډونو پياوړتيا؛ په ناحيو کې تشکيلاتي اصلاحات او د تشکيل بياکتنه؛ د ښاروالیو د کارکوونکو په منځ کې د جندر انډول پراخول؛ او د سيمې په کچه له اړوندو رياستونو سره د همغږۍ ښه کول شامل وي.

**پنځمه برخه: د ځواکمن ملی مناسب چاپيريال او د ښاروالیو د چارو د معينيت پياوړي کول؛ (*DMM*)**

د پورته ذکر شويو برخو د اغيزو ليدنه په ملي کچه د يوې ځواکمنونکي فضا او د ښاروالیو د چارو د معينيت پياوړي کولو ته اړتيا لري. له دې امله، پنځمه برخه به پر هغو فعاليتونو لکه د اړتيا وړ قوانينو او پاليسيو څېړل يا تدوينول، د بيلګه په توګه: د استوګنې د غير رسمي سيمو د لوړولو پاليسي؛ د ښاروالۍ قانون؛ د ښاري خدمتونو قانون؛ د ښاروالۍ د پرمختيايي صندوق يا ښاروالیو ته له مرکزي دولت څخه د پيسو ليږدونې د صندوق رامنځته کول او د ښاروالۍ د چارو د معينيت د کاري وړتياوو لوړول شامل وي.

په برنامه کې به څو اړخيزې موضوعګانې لکه جندر، ځوانان، د ژوند د USP چاپيريال، بشري حقونه او په پورته فعاليتونو او برخو کې د سولې تامينول شامل وي. د بشپړو معلوماتو په موخه په دې اړه چې څه ډول ځوانان کولای شي د ځانانو د پرمختيايي شوراګانو له لارې يا د ځوانانو له استازو سره په سيمه ييزو پرمختيايي شوراګانو کې ونډه واخلي، پنځمې ګڼې سند ته، او په دې اړه چې څه ډول ښځې ځواکمنې شي څو د ښځو له لارې يا د سيمه ييزو پرمختيايي شوراګانو له لارې په فعاليتونو کې ونډه واخلي، په سيمه ييزو لارښوونکو بدلې شي او په تصميم نيولو کې رول ولري. د لومړۍ لړۍ دويمې ګڼې سند ته مراجعه وکړئ.

**څخه څه توپير لري؟ NSP له USP**

چې په کليوالي سيمو کې يې سيمه ييزې (NSP) د ملي پيوستون پروګرام پرمختيايي شوراګانې رامنځته کړې دي او په ښاروالیو کې د سيمه ييزو پرمختيايي د وړاندې شوي طرحې ترمنځ، د USP شوراګانو د رامنځته کولو په موخه د کتنې وړ توپيرونه شتون لري. ښاري سيمې د کليوالي سيمو په پرتله له ټولنې څخه يوه پيچلي استازيتوب ته اړتيا لري. د ښاري شوراګانو لپاره د مراتبو د لړۍ لرونکي جوړښت ته هغو اړتياوو ته چې بريدونه يې لويې ټولنې پر برنامه د ښاروالۍ د USP کوچنيو بنسټونو ويشي، يو له بل سره تړاو لري. د حکومتوالۍ اصلاحات او طرحه شوي مالي اصلاحات د ښاروالیو د مالي، پر ځان بسيايني د لوړولو لپاره بشپړوي او د هغه پر بنسټ ولاړ وي. له همدې امله د ټولنې له قيد او شرط څخه پرته پر مالي عوايدو لوړ تکيه لري. د ټولنې USP ونډه اخيستنه په کليوالو سيمو کې د کتنې ونډه زياته ده (په ښاري سيمو کې شااوخوا ۳۰-۴۰ سلنه) او همدا راز ټولنې د ښاروالیو په فيس او لګښتونو کې د دوام د زياتولو لپاره شاملې وي. دا کار په ځانګړې توګه د استوګنې په غير رسمي سيمو کې چې تر اوسه د ښاروالۍ له خدمتونو څخه بې برخې دي د ډېر اهميت وړ دي؛ دا سيمې د کتنې وړ د قانوني کيدو له پروسې څخه چې د تصدۍ امنيت به افرادو ته زيات تامين کړي، ګټه اخلي. چې دا په خپله د «د ژوند ناوړه شرايطو» د ښه کولو او د ښاروالۍ د عوايدو د بنسټ د پراخولو لپاره يو فرصت دی.



## څه ډول او چیرته؟

دا ډول وړاندوینه شوې چې USP یوه پړاویزه تګلاره غوره کړې ده له کابل څخه پیل او په دوه لومړیو کلونو کې به څلورو ښارونو؛ هرات، مزار شریف، کندهار او جلال آباد ته چې سیمه ییز مرکزونه دي، پراختیا وموميي. په دې پنځو ښارونو کې تر بشپړ پوښښ لاندې شا او خوا ۳۰۰۰ کلیوالي شوراګانې او ۶۰۰ د سیمې شوراګانې شاملې وي. سره له دې چې د دې شوراګانو دقیقه شمیره له کلیوالي او سیمه ییزو پرمختیایي شوراګانو سره چې مخکې رامنځته شوي دي، تړاو لري. (لاندې جدول ته مراجعه وکړئ)[۴] وړاندوینه شوې چې د ټولنې د ۳۵ سلنې له ونډې اخیستنې سره، د فرعي پروژې د تطبیق لپاره له ۷۰ میلیونه ډالرو څخه زیاتې په ښارونوکې له اوسیدونکو څخه راټولیدلی شي. په پای کې دا برنامه پراخیږي او دویمه درجه ښارونه لکه لښکر ګاه، تالقان، کندز او د ستراتیژیکو ولسوالیو ښاروالۍ لکه سپین بولدک، انجیل او اندخوی به هم را ونغاړي. لکه څرنګه چې پورته ذکر شوه USP یوه on- budget (پیسې به له دولت څخه کنترولیږي) پروګرام دی او د ښاروالیو د چارو د معینیت او کابل ښاروالۍ په وسیله به په مرکز او د ښاروالیو د چارو د معینیت تر څارنې لاندې به د سیمو په کچه هم تطبیق شي.

| د USP تیری تجربی | په ۲۰۱۶+ کال کې ستراتیژیک تغیرات |
|---|---|
| د لومړني حکومتي واحد په توګه سیمېزه پراختیايي شورا | د لومړنیو حکومتي واحدونو په توګه د ګذرونو تقویه ( په اوسط ډول ۱۰۰۰ کورنۍ) |
| د پراختیا په حال کې نه ده او په ناحیو او ښاري پلانونو پورې تړلې نه دي. | دښارونو، د ګذر پلانونه د بیا تنظیم/ پرمختیا په خاطر د ښارونو او ناحیو له پراختیايي پلانونو تړاو نلري. |
| د ناحیو پراختیايي شوراګانو له لارې د خدمتونو وړاندې کول | د ناحیو دفترونه او سکتوري ریاستونه خپل خدمتونه د ګذر او ناحیې له پلانونو سره سم وړاندې کوي. |
| د ټولنې ونډه (۳۰ سلنه)، تمویل کوونکې مراجع (۷۰ سلنه) | د ښاري برنامو تمویل په لاندې توګه ویشل شوی دی:<br>• تمویل کوونکې مراجع ۵۰ سلنه<br>• د ټولنې ونډه (۳۰ سلنه) |
| یوازې استوګنیزې ساحې | د اقتصادي پرمختیا په خاطر د سوداګریزو او اقتصادي ساحو لپاره د سوداګرۍ د پرمختیايي کمیټو(BDC) رامنځته کول |

## راتلونکې ته لیکنه:

- د USP د پروګرام د ځواکمنولو په برخه کې، هغو لنډ مهالو او اوږدمهالو ننګونو ته د رسیدنې په موخه چې افغانستان ورسره مخ دی، د دولت، خصوصي سکتور او نړیوالې ټولنې ترمنځ د نظر یووالی؛
- د ښارونډۍ، کلیوالي او USP ترمنځ د ټرون د برنامې د طرحې په اړه د پرمختګ دوام؛
- د نظرونو د راټولولو او د پروپوزل د اصلاح کولو لپاره د ښارونډو او ښاروالیو د ځواکمنولو په موخه په ګډه تګلاره د USP مستندول؛
- د USP د حقوقي او قانوني بنسټ لوړول، د مثال په توګه د SNG په پالیسۍ کې د کلیوالي پرمختیايي شوراګانو او د سیمه ییزو شوراګانو قانوني کول؛
- د دې سکتورونو د با مفهومه ګډون د تامینولو په موخه د برنامو د جوړولو له طرحې څخه د ډاډ تر لاسه کولو لپاره د جندر او ځوانانو د اړوندو اړخونو ښه کول.

د افغانستان د ښارونو راتلونکی پروګرام د ښاری لومړیتوب د ملی پروګرام په انکشاف کی کمک کوی چی دا به را روانه لسیزه کی د افغانستان د ښاری لومړیتوب برخه وی دی لومړیتوبونو کی به د افغانستان د ښارونو راتلونکی پروګرام ۵ ښاری زونونو او ۲۰ ستراتیژیکو ولسوالیو ښاروالی تحلیل او تجزیه کیژی چی مهم معلومات او دقیق ارقام به لاس ته راشی اود موثری پالیسي او ملی پروګرامونو په ترتیبولو کی به وړاندیزونه وشی .

© ۲۰۱۶ دغه مباحثي پاڼه یوازی د غیر تجارتی موخه لپاره د ملګرو ملتونو د بشر د میشته کیدنی پروګرام په لیکل شوی ژمنی سره امکان لری چی تکثیر، انتقال او یا د بیا پیدا کیدو سیستم کی وساتل شی. کوم تعریفات، څیړنه، نتیجه ګیری او سفارشونه په دی نشریه کی د ملګرو ملتونود میشته کیدنی پروګرام د لاړښوونی شورا ، د دی پروګرام د غړو هیوادونو او یا د افغانستان، استرلیا او انګلستان حکومتونو د نظریاتو ښکارندونی نه دي.